DAILY
اراده
داخلی نشراتی مرکزملی خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش
سال ششم شماره ۱۵۰
شماره مسلسل ۱۰۱۶
سه‌شنبه ۳۰ جوزا ۱۳۸۵ هـ.ش
۲۳ جمادی الاول ۱۴۲۷ هـ ق
20 June, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

نمایندگان ولسی جرگه:
هیچ کسی حق ندارد بدون تصمیم این مجلس خواسته های شان را بر رسانه ها تحمیل کند

طرح تازه دولت در باره چگونگی کار رسانه ها که از سوی ریاست عمومی امنیت ملی دیروز در دسترس رسانه ها گذاشته شده است از سوی شماری از نمایندگان ولسی جرگه مورد انتقاد قرار گرفت.

نمایندگان این طرح را مخالف قانون اساسی وقانون رسانه ها، آزادی بیان، توافقات بن واصول دموکراسی در کشور میخوانند. دراین طرح در باره محدودساختن آزادی های رسانه ها نکته های آمده است این طرح که بدون مهر وامضا به رسانه ها فرستاده شده است به رسانه ها سفارش شده تا از گفتگو با مقامات طالبان خود داری کنند واز کار برد واژه های جنگسالاران وغرب زاده گان جلو گیری شود.

نماینده گان مردم در ولسی جرگه میگویند که بعد از آغاز کار پارلمان هیچ کسی حق ندارد بدون تصمیم این مجلس بر رسانه ها خواسته های شانرا تحمیل کند واین عمل را مخالف قوانین نافذ در کشور میخوانند. این طرح در حالی فرستاده میشود که افغانستان دارای قانون رسانه های همگانی وقانون اساسی است. وشماری از بندهای این طرح مخالف قانون های یاد شده میباشد وتوافقات بن را نیز زیر سوال میبرد.

طالبانو په هلمند کې دیرش کسان وژلی دي

مشکوکو وسله والو طالبانوپه جنوبی ولایت هلمند کې لږ تر لږه دیرش کسان وژلی دی.

دولسی جرګې غړی داد محمد خان وویل دغه کسان دیکشنبې په ورځ په دوو بریدونو کې وژل شوی دی.

نومورې ویلی زیات مړی دهغه ملګری او خپلوان دی.

په لومړی برید کې پخوانی ولسوال جمعه ګل ا و دهغه څلور تنه ساتونکی وژل شوی دی.

پاتې نور کسان دمړو دپورته کولو پر مهال دوسله والو طالبانو لخوا په دویم برید کې ووژل شول.

دغه دواړه بریدونه نړدې یو بل پسې دهلمند ولایت دسنګین اوګرشک ولسوالیو ترمنځ په لویه لاره باندې شوې

سرمقاله

ولې د رسنیو قانون ترپښو لاندې کیږي؟

په هغو هیوادونو کې چې ددموکراسی لاره یې خپله کړې وی ددولت په دننه کې دبیلابیلو ادارو او دغه راز دخبری رسنیو لپاره ځانګړی قوانین تصویب اوعملی کیدونکی وی او دهغه مطابق کارونه او تګ لاړې له اغه دغه پرته پرمخ ځی.

خو زمونږ هیوادوال چې پرون په بیلابیلو واکمنیو کې دواکمنیو دتینګښت په خاطر له سختو دیکتاتورانه بندیزونو سره مخ شوی او دژوندانه فضا پرې تنګه او ستونې یې خفه شوی وو په هیواد کې داوسنی نسبی ازادی په ورکولو او دغه راز دټولنیزو رسنیو په رامنځته کیدو سره یې دژوند کولو هیلې تاندې شوی.

اساسی قانون اودرسنیو قوانینو رامنځته او خبری رسنیو ته اجازه ورکړل شوه چې دخپل قانون په رڼا کې حرکت وکړی ټولې رسنی دهیواد شرایطو او حالاتو ته په کتو او ملی احساس دهیواد او هیوادوالو په وړاندې ستر مسوولیت لری او مجبوره دی چې په هیواد کې ټولې روانې ا و پرتې بدبختی د نن او پرون ظلمونه، تخریبی فعالیتونه او تخریبی عناصر او ظالمان که هر څوک وی چې د ملت په وینو یې لاسونه سره وی افشاء کړی خبرې رسنی دخپل وضع شوی قانون په رڼا کې او دهغه مسوولیت له مخې چې لرې یې دجګړو د دواړو خواوو دتلفاتو او حرکتونو څخه ملت او دولت خبر کړی او په دولت ددفاع لپاره غږ وکړی.

خو دریغه چې پرون دامنیت دعمومی ریاست له خوا خبری رسنیو ته دکار دځرنګوالی او لورې دتاکلو په برخه کې ددولت نوی طرحه او پیشنهادونه په داسې دول ورکړل شول چې دخبری رسنیو دقانون له پاسه یو بل قانون!! چې لاتر اوسه ملی شورا نه دی منظور کړی دتطبیق لپاره امرانه وړاندې شو دولت باید دخپل دغه پیشنهاد په ځای د تخریبی عناصرو په وړاندې ددفاع ملا وتړی چې دکابل په زړه کې دخلکو دارایی اوسره زر چور نه شي دبانکونو پیسې په پولیسی لباس غلا نشي سراسری امن اوامنیت خوندی کړی د خلکو دځان او مال اندیښنې له منځه یوسی دوزارت داخله تر څنګ هوټلونو ته په رڼا ورځ اور ورته نشي خبری رسنیو تر اوسه پورې دهیواد او خلکو ګټې او خپل ملی احساس په پام کې نیولې او دخبری رسنیو دقوانینو او ژورنالیستیکی اصول له مخې یې حرکت کړی دی.

که چیرې دولت په خبری رسنیو فشار راوړی چې له خپلو ژورنالیستیکی اصولو پښه واړوی دا کار به په حقیقت کې دخبری رسنیو او دموکراسی د اصولو په لاړه کې دخندونو رامنځته کیدل او درسنیو دټرلو مانا ولري او خبره به دې ته ورسیږي چې ملت په توره تیاره او بی خبری کې ژوند کولو ته اړ شي.

پیشنهاد بازسازی پیکره های بودا در بامیان

صدراعظم تایلند پیشنهاد بازسازی پیکره های بودائی بامیان را به رئیس جمهور کشور ارایه کرده است.

تایلند تصمیم دارد که پارچه های پیکره های بودا را که قدومت تاریخی آن به ۱۶۰۰ سال میرسد در آن کشور بازسازی کند.

الیوشی اتیدپرس مینگبارد تاکسین شیناواترا پیشنهاد بازسازی این پیکره ها را که در زمان حاکمیت طالبان تخریب شده بودند در حاشیه نشست قزاقستان به رئیس جمهور کشور مطرح کرد. رئیس جمهور از این پیشنهاد استقبال کرد وگفته است که این مسئله را با دولت خود در میان خواهد گذاشت. ص۴

په ارزګان کې اوه طالبان مړه او درې ژوندی نیول شوی

د اتل قول اردو مشر جنرال روفی له بینوا سره د ارزګان ولایت په سرمرغاب سیمه کې د ۷ تنو طالب جنګیالیود وژلو پخلی کړی او وایی د یو پاکستانی په ګډون یې ۳ تنه ژوندی نیولی دي. ده ومنله چې دغه عملیات د ملی اردو او ائیتلافی ځواکونو له لوري په ګډه تیره شپه ارزګان کې ترسره شوي دولتی او ائیتلافی ځواکونو ته هیڅ ډول زیان نه دی رسیدلی. ادامه دمخ

دوه پولیس مړه اودوه برید کوونکی تپیان شول

په هلمند کې پر یوې امنیتی پوستې باندې دشکمنو طالبانو دبرید په ترڅ کې ۲ پولیس او ۲ برید کوونکی تپیان شوی دی. دنومورې ولایت دامنیی قوماندان پاسوال نبی جان ملاخیل ویلی چې دغه برید د یکشنبې دورځې مازدیګر دنهر سراج په ولسوالی کې دبریښنا د بند په امنیتی پوسته وشو او له وسله والې نښتې وروسته برید کوونکی په شا وتمبول شول. خو طالبانو په دې اړه خپل نظر نه دی څرګند کړی.

دکابل شهزاده سرای نه سره زر او پیسې غلا شوې

تیره شپه دکابل ښار دشهزاده سرای نه ۱۵ کیلو ګرامه سره زر او یو لړ نغدې پیسې غلا شوي لاتراوسه دپیښې په تور څوک نه دي نیول شوي.

شهزاده سرای نه پخوا هم ورته غلا شوی وه چې بیا دپولیسو امنیتي پوستې په سرای کې جوړې شوې.

پدې وروستیو کې وسلوالې غلاوې دکابل په واټنونو کې په رڼا ورځ شوي خو نه کوم دغلو ټیم اونه هم کوم غل امنیتي پولیسو نیولی.

م م د روغتیا له وزارت سره مرسته کوي

ملګري ملتونه او افغان دولت د داسې یوې ناروغۍ د مخنیوی لپاره کمپاین پیلوي چې هر کال په سلګونو زره افغان ماشومان وژني.

په راتلونکي اونۍ کې به د یونسف د اداري په مرسته د افغانستان د عامې روغتیا وزارت له لوري په ټول هیواد کې د نس ناستي د ناروغۍ د مخنیوي لپاره روغتیایي کمپاین پیل شي.

د دغه کمپاین موخه په کورنیو کې پاکي او روغتیا ساتنه ښودل شوې ده.

د یونسف د اداري د یوې سروې له مخې اوس مهال په هیواد کې هر کال ۵۰ زره ماشومان د نس ناستي ناروغۍ له املې خپل ژوند له لاسه ورکوي. دغه کمپاین د شنبې له ورځې نه په پلازمینې کابل کې پیلیږي چې وروسته به د هیواد یو شمیر لویو ښارونو ته هم وغځول شي.

به بهانهٔ ۳۰ جوزا روز صلح

رحمت الله رسا

در همه جهان «روز صلح» از خیلی وسیع واز نیاز های وصلح جو ضرور است. سالیان دراز به ویژه بعد از مبرم انسان امروز است. برای رسیدن به صلح وقعی، جنگ های اول و دوم جهانی خشونت در فرد در خانواده، صلح باعزت، صلح عادلانه، که خشونت فراموش ناشدنی بجای گذاشت تجلیل وقدردانی میشود.

در افغانستان عزیز که ۲۵ سال بحران سیاسی، اجتماعی وخشونت های مختلف را متقبل شد، بسیار بجا وضروری است که روزی به نام روز صلح نام گذاری وتجلیل گردد.

بعضی از مردمان فکر می کنند که خشونت ها تنها در بر اعظم های آسیا وآفریقا وکشور های اسلامی است. این طور نیست انواع خشونت متاسفانه در همه دنیا در اروپا، امریکا و همه قاره ها است. بشر امروز به اصطلاح بشر پیشرفته از بعد مادی پیشرفته است بخصوص اروپا وامریکا ولی با تاسف از کم داشتن روحیات ومعنویات رنج می برد. از کمال وتعالی روحی در عذاب است.

از جنگ دوم جهانی خیلی وقت نمی گذرد، جنگ دوم جهانی ۲۰ میلیون کشته اضافه از ۵ میلیون معلول ومجروح واضافه از ۵ میلیون آواره وبی خانمان داشت، و ده ها هزار انسان حتی هویت خود را یعنی نام خود را وشخصیت خود را فراموش کرده بودند. سازمان ملل جایی را به نام کمپ «آنهائیکه خود را نمی شناسند» دایر کرده بود. چقدر جای تاسف است این جنگ در اروپا واقع شده بود، وخشونتی بزرگ بود. بعد از جنگ دوم جهانی دنیا متوجه صلح شد چون جنگ وصلح دوپدیده در طول تاریخ بشر بوده است ولی خشونت وجنگ بیشتر از صلح بوده است. پس از جنگ دوم جهانی دنیا به صلح اندیشید وکمیته های صلح ونهاد های صلح در همه دنیا به وجود آمد. این نهاد های صلح گر چه از لحاظ عملی خیلی موفق نبودند. یعنی نتوانستند جنگ ها را مهار نمایند. اما زمینه کار صلح به حیث یک پدیده اجتماعی،سیاسی، روان شناختی، فرهنگی ونیاز اشد جوامع انسانی وبشری در اجتماع، در کشور در سطح ملی، در سطح بین المللی ودر سطح جهانی امروز متاسفانه عملاً وجود دارد. این همه جنایت، خشونت علیه زنان، خشونت علیه اطفال، خشونت علیه جوانان، خشونت علیه مردان، خشونت زورمندان وقلدران جهانی علیه ناتوانان وجود دارد. برای حل این همه خشونت ها مبارزه وکار صلح آمیز ضرور است. صلح خواهان هم در دنیا وجود دارد. صلح نظری، صلح فکری، صلح اندیشه وی، صلح دینی، صلح عرفانی، درس های منظم صلح برای اصلاح وتربیت بشر امروز جریان دارد. وظیفه هر انسان مسلمان، غیر مسلمان، دیندار وبی دین وهمه انسانها وبشریت است که در راه صلح تلاش نماید. و فرهنگ صلح را رواج دهد. صلح معنا های زیادی دارد. صلح تنها به معنای آشتی وگذشت نیست بلکه صلح فزیکی، صلح روحی، صلح معنوی، صلح فردی، صلح خانواده، صلح ملی، صلح بین المللی وصلح جهانی وجود دارد. صلح به معنای آرامش روحی و درونی وباطنی هم است. برای رسیدن به صلح فرهنگ، سواد، معارف خوب، تعلیم وتربیت خوب، تربیت انسانهای خوب ومفید صلحی که به نفع زورمندان وستمکاران نباشد به نفع همه به خصوص مستضعفان باشد. فرهنگ، اقتصاد، امنیت وجامعه مدنی ضرور است.

اگر زورمندان وسرمایه داران وقدرت مندان جهانی می خواهند آرام بخوابند باید ناتوانان وکشور های ناتوان را کمک صادقانه، واقعی وانسانی وصلح دوستانه نمایند. در غیر آن صلح برای زورمندان همه هیچ وقت نخواهد آمد.

پس برای آمدن صلح با عزت و واقعی وعادلانه، آرامش اقتصادی، سیاسی، فرهنگی واجتماعی همه کره زمین به کار است.

اگر این تعادل به طور حداقل در نظر گرفته نشود آرامش وصلح نخواهد آمد.

پس ما از روز صلح وتعین این روز استقبال میکنیم بر گذاری وحمایت این روز میمون را توسط جوامع مدنی، دولت. پوهنتونها، معارف وهمه نهاد های دولتی وغیر دولتی وفرهنگی واجتماعی آرزومندیم امید است به ارتباط این روز کار های نظری وعملی وفرهنگی در باره صلح انجام شود وملت سر فراز ما از صلح آگاهی بیشتر کسب نمایند. پاینده باد صلح در سراسر جهان زنده باد رونده گان راه صلح.

د شانګهای همکاري سازمان ته یوه لنډه کتنه

ضیاء الله ضیاء - آسټرالیا

دشانګهاي د همکاری د سازمان سر مشریزه غونډه چې د چین د شانګهاي په ښار کې جوړه شوه ویل کیږي چې دا به په سیمه کې دیوه خواکمن سیمه ایزه ځواک په لوري ددې سازمان یو ګټ اوډېر مهم ګام و ګڼل شي. دغه سازمان چې د خپل تأسیس په دوران کې د اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او سوداګری په برخو کې پرې ډېر مهم ګامونه پورته کړي دي او دیوه سیمه ایز او نړیوال سازمان په توګه خوځیږي تن سبایې په توله نړۍ کې زیاته پاملرنه ځانته را ګرځولې ده.

دآسیا مرکزي سیمه چې د خپل ثروت او باارزښته ستراتیژیکي موقعیت په خاطر تل د امنیتي ستونزو او ګواښونو سره مخ وه ،ډېرو لیږو هیوادونو ددې سیمو موقعیت او طبیعي ثروت ته سترګې نیولې دي. سوله او امنیت یې تل د ستونزو او ګواښونو سره مخ کړیدی. ددې سیمې هیوادونه اوولسونه تل دداسي لاړو چارو په لټه کې وو چې په داسي یوه تشکل کې ځان سره راغونډ کړي څو هغوی خپل ملي خپلواکه دولتونه واکمن وساتي په خپل مینځو کې سوله او امنیت تأمین کړي او ددې سیمود لاټجو هواری ته یوه ملي د حل لاري پیدا کړي. په ظاهره خو د همدې ضرورت پر بنست چې یوه لسیزه پخوا یاني په کال ۱۹۹۶ کې دروسیې او چین لخوا د شانګهاي د همکاریو د سازمان ډېره کښېښودله شوه.

د شانګهای د همکاری سازمان چې نن په سیمه او نړۍ کې دسولې اوثبات دتأمین دپاره د خپلو تلاشونو لمن پراخوي، دخپل حرکت په مسیر کې غواړي چې ځان د یوه مهم ځواک په ځیر نړیوالو ته را میدان ته کړي. ددې سازمان د اصلي هدفونو ځخه یو هم په سیمه اونړۍ کې دسولې دټینګېدو او دثبات د پراختیا مزي دي. دشانګهاي د همکاری سازمان د هغه ګواښونو سره چې د اقتصاد د جهاني کېدو په جریان کې را مخته کیږي مقابله کوي او داسي هڅې یې پیل کړي دي چې ګواکې وبه کولای شي د راتلونکي څو قطبي سیاسي نړۍ په جوړېدو کې مرسته وکړي.

که څه هم دغه سازمان په لومړي سر کې د چین او د هغه د ځلورو ګاونډو هیوادو دپولو او په کلي توګه د ګډو ګټودرلودونکو یا مشترک المنافع هیوادونو د لاټجو د حل لپاره جوړ شو خو په را وروسته کې د ددې سازمان د فعالیتونو عمده لوری داسي خوا ته واوښت چې د امنیتی او پوځي اهدافو په درلو دلو سره یې د یوې سیمه ییزه اتحادیې جوړېدو ته مخه شوه. د پخواني شوروي اتحاد د پاشل کېدو نه وروسته د مرکزي آسیا هیوادونه ددې سره سره چې خلکو یې خپلواکي ترلاسه کړه او خپل مقدرات یې په خپل لاس کې و نیول خو په دنته کې ددېرو جدي ستونزو او د هغو په جمله کې د امنیتي ستونزو او ګډوډیو سره مخامخ وو. ددې ګډوډیو د روسیې او چین پر هیوادو هم خپل تأثیرات ښندل او ددې هیوادو چارواکي په دې فکر کې وو چې که ددې ګډوډیو ته یوه سالمه او سپینه د حل لاره پیدا نشي نو کېدای شي چې په راتلونکې کې به ورته لویه سرخوږي پیدا کړي. په ظاهره خو همدا بهانه وه چې روسیه او چین یې دېته اړ کړل څو د شانګهاي د همکاریو د سازمان د جوړېدو په فکر کې شي البته په را وروسته کې په دغه سازمان کې د

قزاقستان،قرغیزستان، اوزبکستان هیوادونه هم دغړو په حیث شامل شول.

په عین حال کې د مینځنۍ آسیا په هیوادو کې د امریکا ګړندی نفوذ او د ددې هیوادو په دنته کې د امریکا غږېدل دروسیې او چیني چارواکوته جدي اندېښنه پیدا کړه. د شانګهاي د همکاریو د سازمان دلازي داسي هلي ځلي پیل شوې څو په سیمه کې د امریکا پردې ګړندي پرمختیا باندې محدودیتونه ولګوي او د نفوذ مخه یې و نیسي د شانګهاي د همکاریو سازمان ددې سیمې له هیوادوڅخه د واشنګټن د پوځي اډو د تولېدو غوښتنه هم ددې تشکل یو ځانګړی هدف ګڼلی دی. دغه سازمان په خپلو ناستو کې تل داسي څرګندوني کړي دي څو امریکا ته په ډاګه کړي چې هر کله په سیمه کې ثبات او آرامي تأمین شوه نو امریکا باید چې ددې هیوادونو څخه خپل خواکونه وباسي او خپلې پوځي اډې وتړي. اوس اوس خو یوازي په افغانستان کې د نه ثبات او دتروریزم د جړپو دایستلو په خاطر د هغوی شتون د یوه ضرورت په حیث منل شوی دی خو په راتلونکې کې کېدای شي چې د همدې سیمه ایزه سازمان لخوا ستونزې ورته وزېرول شي. چین اوروسیه اوس دواړه په ګډه داسي تلاش کوي چې ددغه سازمان په توانمن کېدو سره دغه سیمه ییزه د هیوادونو اتحاد د قدرت په یوه نوي بلاک را واړوي. په دې سازمان کې د ایران، هند او پاکستان د غړیتوب غوښتنه ددې خبرې سپیناوی کوي چې دغه سازمان سیمه ییزه او نړیواله اوږد مهاله طرحې لري. نومورې هیوادونه د مغولستان په ګډون راوروسته پروسږ کال د جولای په میاشت کې رسماً ددې سازمان د کتونکي غړو په توګه شامل شوه. کله چې په مرکزي آسیا کې د خپلواکو هیوادونو یوه مجموعه را پیدا شوه ،نو د غه هیوادونه د ورته ببلګو او ځانګړتیاوو په درلودلو سره د سیمه ییزه امنیتي پیمانو د جوړېدو لپاره یو مناسب پوټنسیل پیدا کړ. د امریکا په ملاتړ او لاربښوونه د ۹ ګوام امنیتي پیمان، د شانګهاي پیمان او دډله ایز امنیت پیمان ددې پیمانو د جملې نه و ګڼل سوه چې غالباً د سیمې هیوادو د ملاتړ نه هم برخمن و. د بلې خوا خنیځ ته د ناټو د پیمان د سیاسي اهدافو غزېدل چې خینې سیمه ییزه هیوادونه هغه ته د دوه اړخیزه او څو اړخیزو اړیکو کې د نړیوال امنیتي پیمانو سره تړاو بولي، په واقعیت کې د نړیوال امنیتي نظام سره ددې سیمې اهمیت څرګندوي. همدارنګه د چین په ستراتژیکو محاسباتو کې بیا مرکزي آسیا د مختلفو سیاسي، اقتصادي او امنیتي دلایلو په وجه دې ستر هیواد ته یو ځانګړی ځای لري. د چیني کارپوهانو او څېړونکو له نظره په یوویشتمه پېړۍ کې به د مرکزي آسیا د هیوادو په مابین کې امنیتي همکاری، د لویو قدرتونو رقابت ، د نفتو او غازو د منابعو پر سر سرشکونه او د دسیمې د بې ثباته کولو دپاره د تروریزم د هڅو نقش به زښت زیات زیاتوالی و مومي. په داسي حال کې چې چین او روسیه په مینځني آسیا کې د خپلو امنیتي همکاریو مزي نور هم ټینګوي خو په عین حال کې امریکا نه هم ډاډ او تضمین ورکوي چې په دې ارزښتناکه سیمه کې دهغوی په مابین کې خپل مینځي جوړ جاړ، او د اهدافو پر سر توافق ، د امریکې ګټو د له مینځه وړلو په خاطر و نه ګڼي. خو ددې سره سره څرنګه چې امریکا په دې سازمان کې غړیتوب نلري په واشنګټن کې ځینې باخبره منابع په دې باور دي چې امریکا ددې سازمان د اهدافو او د هغه د لوري د ټاکلو نه ډېر زیات اندېښمن دی. د ځینو کار پوهانو په عقیده دغه سازمان د شمالي اتلانتیک پیمان یعنی ناټو په مقابل کې د یوه توازن په ځیر ګڼل کیږي چې سر را پورته کوي، خو ځینې بیا وایې چې د امریکا د اندېښنې علت ځکه ډېر دی چې ویل کیږي دغه سازمان پخپله په سیمه کې د امریکا د نفوذ سره د مقابلې په خاطر ایجاد شوی دی. د چین جمهور رییس هم په پیکنګ کې واشنګټن ته تضمین ورکړی دی چې د شانګهاي د همکاریو سازمان په مینځني آسیا کې د امریکې د ګټو له مینځه وړلو په پام کې نلري. هغه ویلي دي چې دغه سازمان په سیمه او نړۍ کې د سولې او ثبات د تأمین لپاره غواړي یو رغنده ځواک واوسي. نن چې دهیوادو سره د ایډیالوژیکي اړیکو پر مبنا دوستی د ډېرو ککړې و خوړلې، په تاریخ کې وشرمېدل او لوی لوی ناورینونه یې را مینځته کړل، په کلي توګه اوس ددې سیمې هر هېواد تلاش کوي چې په دې یا هغه سازمان کې د غړیتوب په ترلاسه کولو یا نه تر لاسه کولو کې تر هر څه دمخه نه ایډیالوژیکي باورونه بلکه خپلې ملي ګټې او تاریخي سوله ییزو ملي مسؤلیتونو ته وګوري او دملي ګټو تأمین ته د لومړیتوب حق ورکړي لکه څنګه چې د شانګهاي د همکاری سازمان غړي او کتونکي په دې باور دي چې امنیتي، سیاسي اواقتصادي اړیکي د متقابلو ګټو د منلو په چوکاټ کې کولای شي پراختیا وموميې نو ددې سازمان غړي هیوادونه هم که دې اصل ته صادقانه پاملرنه وکړي کېدای شي چې د سیمې راتلونکي او دسولې او ثبات په تأمین کې به غوښنه او مغزنه ونډه واخلي.

متصدی: نرگس

زن را، مادر را، ستایش کنیم!

روز خانواده و زنان نان آور در افغانستان

دفتر نمایندگی سازمان ملل متحد در کابل اعلامیه ای منتشر کرده که در آن روز جهانی خانواده، امسال به نام "تغییر خانواده، فرصت ها و چالش ها" مسمی شده است.

بر اساس گزارش سازمان ملل متحد بطور عموم تمام خانواده ها در جهان دچار تغییراتی شده اند، بر اساس این بررسی ها اوسط اندازه خانواده ها در جهان کاهش یافته، است.

روز خانواده و تجلیل از آن برای بیشتر افغانها یک مفهوم و تعبیر جدید است، افغانها بطور سنتی در واحد های کوچک زندگی می کنند، که در راس آن پدر و مادر به طور نامتعادل سرپرست آن هستند.

تحولات و بحران های چند دهه اخیر در این کشور نه تنها دگرگونی هایی در ساختار جامعه وارد کرده بلکه موازی با آن، تغییراتی را در ساختار های خانواده گی نیز بوجود آورده است. افزایش ارقام زنان بیوه، فقر و بحران های خانوادگی که ناشی از سنت های قبیله ای در این کشور است سبب شده که بسیاری از خانواده ها متکی به یک سرپرست (پدر یا مادر) باشند.

بیشتر زنانی که همسران خود را از دست داده اند، اکنون یگانه نان آور خانواده های خود هستند، درحالیکه در گذشته این زنان و فرزندان آنها وابسته به خانواده های اقارب و نزدیکان خود می بودند.

بر اساس ارقام منتشر شده از سوی سازمان ملل متحد در افغانستان بیش از یک میلیون بیوه زندگی می کند.

کبرا از باشندگان شهر کابل است. او سرپرست و تنها نان آور یک خانواده پنج نفری است.

در گذشته رسیدگی به امور خانواده، میان کبرا و شوهرش تقسیم شده بود، او می گوید که شوهرش امور اقتصادی را بر عهده داشت او به امور منزل رسیدگی می کرد. اما با از دست دادن شوهرش اکنون هر دو کار را انجام می دهد.

کبرا می گوید: "میخواهم مادر خوبی باشم، اولادهای خود را سالم تربیت کنم و هم برای آنها پدر باشم و هم مادر، جدل دارم که سواد اولادهایم بلند برود و یک زن سرخ رو و سرفراز در جامعه باشم."

او می افزاید: "خانواده بسیار مهم است، غم هر جا، در خانه حل می شود اما غم خانه و خانواده را کجا ببری که حل شود؟ هر زن برای بهبود خانواده خود باید کار کند، چرا که در جنگ های افغانستان بیشترین صدمه را زنان دیده اند".

کبرا که می گوید مشکلات اقتصادی زیادی در زندگی داشته است، اکنون با همکاری وزارت زنان افغانستان، در یک سازمان غیر دولتی به کار سبد بافی، جارو سازی، دیگ سازی مشغول است.

او می گوید که زندگی اش نسبت به گذشته بهتر شده و اکنون به این نتیجه رسیده است که زنان باید کار کنند، نگرانی چاره کار نیست، بلکه با زحمت کشیدن می توان بر مشکلات غلبه کرد".

تغییرات در زندگی این گونه زنان سبب شده تا آنها بیشتر مسولیت پذیر باشند، به عنوان عضو فعال در اجتماع حضور یابند و به فعالیت های اقتصادی مشغول شوند

اما این تغییرات که ناشی از وضعیت نابسامان اقتصادی خانواده هاست بیشتر تحمیل شده به نظر می رسد.

شمار متعدد سازمان های غیردولتی ملی و بین المللی بطور ناهماهنگ و محدود برای خانواده های تک سرپرست کار می کنند.

اما به گفته مسئول یکی از نهادهای کمک به زنان فقیر و بی سرپرست افغان، این فعالیت ها کافی نیست

در حال حاضر دولت افغانستان با این مساله بهبود شرایط کار و زندگی برای حدود سیصد هزار زن افغان روبروست که تنها نان آور خانواده های خود هستند.

پیوسته به گذشته
صحبتی دیگر در باره زبان وزبانشانسی

ا. ا. نگاکر

زبانها در محل همزیستی خود ناگزیر دست داد وگرفت به سوی همدیگر دراز میکنند چنانکه اگر هردلیل دیگر را کنار بگذاریم دری زبانی که داستان کوتاه می نویسد وقهرمان داستان او به گروه دیگر زبانی تعلق دارد در هنگام نقل قول از اوتکیه کلام های خاص او را از زبان خودش ناگزیر باید وارد زبان خود بکند مگر اینکه آقای داستان نویس بگوید: من به جز گروه زبانی خود درباره هیچ به اصطلاح بیگانه نمی نویسم.» که این موضوع دیگری است اما درخلال هزار سال گذشته وضع همیشه به دلخواه زبان دری نبوده است برخی از نویسندگان به حکم تکلف و برای نشان دادن تسلط خود برزبان های دیگر کلمات فراوان رابدون ضرورت وارد زبان دری کرده اند که خوشبختانه بهمان نگارشهای متکلف چون تاریخ وصاف ودره نادره محدود مانده وراه خود رادر زبان گفتار دری زبانان باز نکرده است اما مصیبت لغتنامه مجعول دساتیر که به دلیل نوعی ملی سازی آمیخته با تعصب بر سراین زبان آمد از آن مصیبت ها نیست که به سادگی نادیده اش انگاشت زیرا حتی امروز هم آنان که دری ناب مینویسند ویا میکوشند سینه قاموسهای کهنه را درجستجوی کلمه های سوچه دری وخاصه کلمه های قبل از اسلام بکاوند ویافته ها را بانوعی افتخار چاشنی کلام خود بسازند به یغما خوان آماده دساتیر میپردازند یکی از فرقه های زردشتی درهند که خود رافرقه آذرکیوان میخواند کتابی در باره شاهان وپیامبران زردشتی جعل ودر آن از لغات خودساخته وبی اصل ونسب استفاده نمود وملاقیروز نامی این کتاب مجعول را از هند به ایران آورد. بقیه این ماجرا را از زبان استاد بزرگوار جناب ابراهیم پور داود برای تان نقل میکنم:

«در این چند سال که پی زنده کردن زبان افتاده اند ومیخواهند به جای واژه های بیگانه فارسی بنشانند مشت از لغتهای ناهجار آن برداشته مانند استخوان وکلوخ به این جاو آنجا پرتاب میکنند...

از سال هزاروشصت ودوکه سال تالیف برهان قاطع است وصدها لغت دساتیر در آن یاد گردیده دساتیر یکی از آسیب های زبان ماشده به ویژه از سال ۱۲۳۴ هجری قمری که سال انتشار خود کتاب دساتیر است لغتهای آن بیش از پیش میان مارخنه کرده است.

فتح الله شیبانی معاصر ناصرالدین شاه در منتخبات دیوانش که در سال ۱۳۰۸ هجری قمری در استانبول به چاپ رسیده مها باد پیغمبر ساختگی دساتیر را در ردیف پیغمبر خودش آورده میگوید:

مهاباد این گفت واحمد همین ++ چه پیچی تودر آن سه عیسوی

رضا قلیخان هدایت در فرهنگ انجمن آرای ناصری فرجود را به معنای معجزه لغت برازنده ای پنداشته ودر مدح پیغمبر گفته است:

دعوی اش راهزار برهان است ++ فره اش را هزار فرجود است

میرزا فرصت شیرازی همزمان ناصرالدین شاه در توصیف شاهنامه گوید:

نه شهنامه دریای ژرف است این ++ نه افسانه پند شگرف است این

فری برفراتین فرویده اش ++ خهی چامه های اپرخیده اش

به فرجودهای سخن پروری ++ سزدگرزند لاف پیغمبری

شاید لغتهای دساتیر در اشعار شعرای دیگر دوره ناصری مانند قا آنی یغمای جندقی وسروش اصفهانی وفروغی بسطامی ودیگران نیز پیدا بشود باید گردید ودید. میرزا صادق خان امیری ادیب الممالک فراهانی که در سال ۱۳۳۶ هجری قمری در گلشت ودیوان کاملش در سال ۱۳۱۲ هجری قمری به چاپ رسیده یک سره دلداده دساتیر است. **ادامه دارد**

په کلیوالو سیمو کی پر ښځو باندې د خشونت دروند بار

اوسه پوری انجونی په پیسو باندی دواده په نامه خرڅیږی لا تر اوسه پوری په ښځو باندی دخپلو څښتنانو او که ووایو دژوند د ملګری له خوا او یادکورنی دمشرانو غړو له خوا ظلمونه کیږی خپل واک او اختیار تری اخیستل کیږی پداسی کورنیوکی میړه دخپل پلار اومور په وړاندی کوم مقاومت او د ښځی طرفداری هم نشی کولای ډیر خله لیدل شوی چی ښځه د میړه په غیاب کی دلیورونو له خوا وهل شوی او دپلار کورته شړل شوی ده.

ښکنځلی او خشونت یی په وړاندی کیږی همدا وجه ده چی ښځی د دودله مخی ډیری کمی د طلاق اخیستلو ته زړه ښه کوی او هغه هم دمیړه له خوا ورکول کیږی او د طلاق اخیستلو له واک څخه بی برخی شوی ده.

دغه راز ښځی په خپل ځان باندی فشار راوړی دکورونو غمونه او خشونت یا په زړه تیروی او یا سل تصمیمه یو کړی او خان په بیلا بیلو لارو تری خلاصول غواړی.

په کابل کی دښځو چارو وزارت چی دکوم وخت راهیسی جوړ شوی دی نوموړی وزارت او دغه راز دنظر څښتنانو ښځو له خوا تل داسی انتقادونه کیږی چی په هیواد کی ښځوته حقوق نه ورکول کیږی ددی تولو نظر داوی چی کنې ښځوته باید په دولت کی لوړی څوکی ورکړل شی او غړی واورېدل شی دښځو چارو وزارت او دښځو اړوند

سازمانونو لاتر اوسه پوری ونه شوای کړای چی د ذهنونو دتنویر لپاره په کلیو او باندوکی کار وکړی او هغه کسان چی له بیلابیلو لارو په ښځو باندی دخشونت دله منځه وړلو په باره کار وکړی دهیواد په بیلابیلو سیمو کی ډیری داسی ښځی شته چی په کورنیو کی له خشونت څخه په تنګ شی دخپل ګران ځان دوژلو لپاره تیاریږی دا کار دهیواد په هر ولایت کی شوی دی خو په هرات کی یی زیاتی بیلګی لیدل شوی دی او یا کله نا کله دخپلو میړونو له خوا په بیلابیلو پلمو وژل شوی چی داسی مجبورو ښځو د ژوند انه حالت ته تر اوسه پوری پاملرنه نه ده شوی مونږ یوازی پدی نه بریالی کیږو چی یوازی ښځی دمسوولیت څوکی ترلاسه کړی او په کلیو کی دښځو ژوند ته پاملرنه ونشی.

ولې د سولې ورځ لمانځو ؟

د افغانۍ مدنۍ ټولنې مجمع

زمونږ ګران ټاټوبی افغانستان دخپل جغرافیائی او ستراتیژیك موقعیت له مخی له ډیری مودی راهیسی دپردیو اواجنبیانو دراز راز مستقیم او غیر مستقیمو تیریو سره مخامخ شوی دی. ددی خاوری دښمنانو دخپل اغیز ساتلو لپاره هر ډول چالونه (حربی) په کار اچولی چی ترټولو خطرناك یی دتفرقی، تعصباتو او په قومونو ویشل وو.

په دی وروستیو جګړو کی چی ډیر وخت یمی دوام وکړ، ددی خاوری دښمنان تر پخوا ډیر فعال شوی وو چی ددغو تیروجګړو په تحمیل سره یی افغانان د ډول ډول ستونزو او ورانیو سره مخامخ کړل. ډیر یی شهیدان، یتیمان، کونډی، مهاجرت ته مجبور او دژوند له اساسی اسانتیاوو لکه تعلیم،صحت، کار او داسی نورو څخه محروم کړل.

دا دفزیکی ورانیو ډول و، یو بل ډول یی چی په ستر ګونه لیدل کیږی خو ثار، نښی اونښانی یی زمونږ د ټاټوبی په هره ګوښه کی محسوسی او لیدلی کیږی او زمونږ دخاوری ډیروګړی یی په خپل جال کی کلابند کړی هغه: توپیرونه (تعصبات) کینه،حسد، ظلم، تیری، دوګړو حقوق ترپښو لاندی کول، کسات اخیستنه او... دی چی دا ټول سولی ته زیان رسوی اوس چی زمونږ په خاوره کی څه نسبی سول دځینو سوله دوستوګړو، ارګانونو او بین المللی ټولنو په هلو ځلو سره ټینګه شوی، ددی خاوری دښمنان غواړی خو دغه دسولی فضا بیا په خونړیو جګړو او ورانیو واړوی او خپلو ناوړه هدفونو ته ورسیږی په دی اړه د وطن دسولی ماتوونکی دی باید ومنی چی دوی دسولی دپروسی فعالین نه بلکه د جګړو او فساد دپاره فعالین دی.

په لنده توګه ویلای شو چی سوله په دوه ډوله ده:

۱- سیاسی سوله.

۲- ټولنیزه سوله.

۱- سیاسی سوله: چی عموماً دقدرت او نفوذ د خاوندانو نظامی ارګانونو له خوا او یا دقانون په تطبیق سره مینځ ته راځی یوه هر اړخیزه سوله نه وی او زیات وخت ماتیدونکی وی.

ټولنیزه سوله :چی حکومت هم دهغی په ټینګښت کی مهمه برخه لرلای شی خو دټولنی دوګړو برخه بیا خانګړی ده په ډیره بیا دافغانی ټولنی چی نه نوی فیصده وګړی یی مسلمانان دی اواسلام په اخوت وروروڼی سوله ییز ژوند دحقوقو په رعایت سولی او... تاکید کوی دا ډول سوله چی د ټولنی د وګړو له خوا تامین کیږی یوه واقعی او تلپاتی سوله وی.

پر همدی بنسټ وچی یو شمیر دسولی فعالینو او دافغانی مدنی ټولنی مجمعی دسولی اړوند کارونوترځنګ پریکړه وکړه چی یوه ورځ دسولی دورځی په نوم ونمامنځی چی هدف او موخه یی دسولی ټینګښت د وګړو دتشویق او هڅوونی لپاره د ځان تیریدنی پخلاینی ترحم صداقت او ددی لپاره چی د تاوتریخوالی څخه ژغورل شوی ټولنه ولرو. د ډیرو بحثونو او غونډو وروسته د جوزا ۳۰ مه نیټه د سولی د ورځی په نوم ونومول شوه چی دا کار دهر افغان خواستایل شوی او دمرستی او ګډون ژمنه یی هم کړی ده.

د افغانی مدنی ټولنی دمجمعی دکارونو او فعالیتونو ترځنګ دغه جزوه تاسو یی لولی په حقیقت کی یو غوښتنلیك دی چی ستاسو خدمت ته وړاندی کیږی چی ددغی ارزښتمنی ورځی دلمانځلو په ویاړ داسلام دمبین دین دارشاداتو مطابق چی دسولی په هکله راغلی خبر په خپل ځان عملی او نورته یی هم ورسوی هغه چی دسولی د ټینګښت دپاره اړین دی.

د نمونی په توګه تاسوته دا لاندی وړاندیزونه کیږی:

۱ کـه لـه یـوه دوسـت او هیوادوال سره خفه یاست ددی لاندی حدیث شریف سره سم عمل وکړی:

ژباړه : یو په بل سره بغض،حسد او کینه مه کوی یو له بل څخه مخ مه اړوی، دالله (ج) مخلصین بنده ګان او ورونه شی، دهیڅ یو مسلمان دپاره روانه ده چی دبل مسلمان سره ددری ورځونه زیاتی اړیکی پری کړی.

((دغه مبارك حدیث شریف بخاری په کتاب الادب مسلم په کتاب البرکی اواللولو کی ۱۶۵۸ نمبر ذکر شوی))

۲ دمبارك ایت(و الصلح خیر) یعنی سوله غوره او بهتر ده امر پرځان عملی کړی په خیر کی شریك شی دحسد اوکینی څخه ځان وژغوری.

۳ نن هوډ وکړی چی دانتقام پرځای عفوه اختیار کړی ځکه چی دانتقام څخه څه ګټه نه ترلاسه کیږی او دالله (ج) رضا اوستاسو خیر په عفوه کی ده.

۴ که د دوه ورونو ترمنځ څه خفګان وی دهغوی ترمنځ سوله وکړی چی جنت مو په نصیب شی.

۵ که په کورنی ټولنه یا دکار په چاپیریال کی مو تاوتریخوالی او بی عدالتی وی دهغو په له منځه وړولو کی ونډه واخلی او خپل اخرت ښایسته کړی دحدیث شریف اوامر عملی کړی چی فرمائی: که چا تاسو سره علاقه قطع کوله تاسو یی ټینګوی که چا درسره ظلم کاوه تاسو ورته عفوه وکړی که چاتاسو سره بد چلند کاوه تاسو ورسره ښه چلند غوره کړی.

۶ دخپل دردیدلی او کړیدلی وطن په ابادی او سمسور تیا کی فعاله ونډه واخلی.

۷ د جوزا ۳۰ دسولی دورځی په ویاړ په ټول افغانستان کی ډول ډول فعالیتونه او کرنی ترسره کیږی په دی ثواب کی شریك شی.

۸ خلك او په تیره بیا دخپلی کورنی غړی دوستی محبت اوسوله ایزو ژوند ته راوبولی.

۹ دا مفکوره پرځان او هغه چاباندی چی تاسو سره رابطه لری پیاوړی کړی مونږ ټول افغانان او مسلمانان یو، باید چی په ژبنی مذهبی منطقوی قومی نژادی او... تقسیماتو ونه ویشل شو دسوله ایز ژوند لپاره هڅی وکړو او یوشان ورونه او خویندی واوسو.

۱۰ که زمونږ کرنی په ټولنه کورنی کلی ښار او... کی دظلم دښمنی او ... ښکارندویی وی هغه تغییر او دظالمانو له کرنی څخه د عادلانو کړی ته راشو.

۱۱ د جوزا ۳۰ دسولی ورځ یو نیك فال وګڼو خلك ددی مبارکی ورځی په فعالیتونو کی دګډون لپاره وهڅووهرکال هغه ولمانځو او پابلی یی پراخی کړو هره ورځ خپل عملونه وارزوو په ښیګړو کی زیاتوالی او دبدوله منځه وړلو کی کوښښ وکړو چی په پایله کی په ټولنه کی صالح او سوله ازو اوسو.

تقاضای مجازات اعدام برای صدام حسین

رسیدگی به دوسیه اتهامی صدام حسین و جمعی از مقامات رژیم سابق عراق به اتهام کشتار دجیل وارد مراحل نهایی خود شده و محکمه برای وی و دو تن دیگر از متهمان تقاضای مجازات اعدام کرده است. روز دوشنبه، ۱۹ جون، جلسه محکمه رسیدگی به دوسیه رهبر سابق عراق و هفت تن از مقامات رژیم وی برگزار شد تا در پایان دفاعیات وکلای مدافع ضمن جمع بندی نظرات خود در خلال روزهای آینده نظرات خود را در اثبات اتهامات وارد شده به متهمان برای آخرین بار ارایه دهد. در جلسه روز دوشنبه، خارنوال در دفاع از کیفرخواست برای صدام حسین، رییس جمهوری سابق، برزان التکریتی، برادر ناتنی وی، و طاها یاسین رمضان، معاون رییس جمهوری تقاضای مجازات اعدام کرد. صدام حسین و تمامی متهمان دیگر دوسیه قتل ۱۴۸ تن از شیعیان شهرک دجیل در دادگاه حاضر بودند. این دوسیه به قتل جمعی از شیعیان دجیل در سال ۱۹۸۲ ارتباط دارد که در پی سوء قصد نافرجام به جان صدام حسین دستگیر و اعدام شدند.



پیشنهاد بازسازی...

معین توریزم وزارت فرهنگ وجوانان میگوید که این پیشنهاد ایجاب مطالعات بیشتر وتوافق یونسکو را نیاز دارد. این در حالیست که دوسال پیش طرح بازسازی این دو پیکره به شکل لایزری آن از سوی وزارت اطلاعات وفرهنگ وتوریزم به جاپان پیشنهاد شده بود که بر اساس گفته های آقای ستانکزی موافقت دوطرف روی این برنامه صورت گرفته است وآنان در انتظار موافقت یونسکو هستند.

په ارزګان کې اوه طالبان ...

د ده په وینا عملیات د استخباراتي مالوماتو په بنسټ ترسره شوي دي ، چې یوه اندازه سپکه او درنده وسله هم لاس ته راغلې نومورې د زابل د سیوری په ولسوالۍ باندې د وسله وال برید خبره هم ومنله چې له املې یې ۲ دولتی سرتیري ټپیان او یو ولسی وګړی وژل شوی دی. دغه برید تیره شپه طالب جنګیالیو په ولسوالۍ کړی و.

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

زیرنظرهیات تحریر انتشار میباید
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : سهراب دیدار

اراده
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی

Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: 070222726
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com